مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد.

عبدالباري جهاني
۲۰۲۰/۰۸/۱۸

شاه شجاع، امير دوست محمد خان او برتانيه

نه ويشتمه برخه

دريم فصل

امير دوست محمد خان د عمل په ميدان کې:

دوست محمد خان، چې د ۱۸۳۹ کال په اګسټ کې بخارا ته تښتېدلی وو، د بخارا امير يې يو څه وخت ښه قدر وکړ. دا چنداني معلومه نه سوه چې د بخارا امير ولي له هغه سره خپل سلوک بدل کړ. هغه يې بندي کړ او حتی د وژلو هڅه يې وکړه. خو د خپلو خلکو له وېرې يې داسي يو سرى په يوه اسانه نه سواى وژلاى چې کفارو يې پاچهي ورڅخه اخيستي او هغه د اسلام مځکي ته پناه راوړې وه. دوست محمدخان، يو کال وروسته، له بخارا څخه وتښتېدی او خُلم ته يې ځان ورساوه. د خُلم والي سمدستي مالي او پوځي مرسته ورسره وکړه او د انګرېزانو لپاره يې، په شمالي سيمو او کوهستان کې، اوربل کړ.

د ۱۸۴۰ کال له اوړي حتی له پسرلي څخه د هيواد له بېلو بېلو برخو څخه د ناکرارى آوازې او رپوټونه را رسېدل. د ګورنرجنرال دفتر ته د کابل د اداري، شاه شجاع او د افغانستان په هره برخه کې د نا آراميو او نارضايتيو رپوټونه ورتلل او کله چې به هغوى له مکناټن سره تماس ونيوى ده به، له معمول سره سم، تول رپوټونه رد کړل. د ۱۸۴۰ کال د اګسټ پر څلورمه يې د ګورنرجنرال سکرتر کالوين ته وليکل:

« زما لپاره دا ډېره دردوونکې ده چې حکومت د هغو کسانو رپوټونو ته توجه کوي چې له سهاره ترماښامه بېکاره ناست دي او د کيسو له جوړولو پرته بل هيڅ کار نه لري. دوى ځکه په شاه شجاع او د هغه په حکومت پوري د دروغو کيسي جوړوي چې دوى د دغه حکومت په خاطر په داسي يوه هيواد کې بند پاته دي چې د شرابو ويالي نه پکښی بهيږي. شاه د مشرانو په بخلا کولو کې خپل تول وس کوي. دى په ډېر صبر او حوصله تولو شکايتونو او عرضونو ته، که څه هم ډېر به نامعقول هم وي، غوږ نيسي او هيڅ يو بې جوابه نه پرېږدي. تاسي ته ويل سوي دي چې شاه شجاع داسي واکمن دى چې نه په چا باور لري، نه چاته انعام ورکوي او نه سزا ورکوي. دا خبري تولي چټي او بېځايه دي او هره يوه پر خپل ځاى ردېږي. ما د اعليحضرت په باره کې خپل نظر درته ويلی دى او نور څه نه سم ورباندي زياتولاى. زه په دي عقيده يم چې دى په خپله پاچهي کې تر تولو لايق سړى دى. د دې هيواد د عايداتو تاريخ په څو کلمو کې خلاصه کېداى سي. څه پيسي چې لاسته راځي هغه په ملايانو او جوماتونو، په عسکرو او د اعليحضرت د کورنۍ په لګښتونو لګول کيږي. چې زه نيم ساعت وخت پيدا کړم دا تول به ټکي په ټکي درته تشريح هم کړم. ته پوهېږې چې موږ په تېنګه ژمنه کړې ده چې د افغانستان په داخلي چارو کې به لاس نه وهو. او زما خپله مشوره هم دا ده چې موږ بايد په دې لومړيو شپو ورځو کې داسي کار ونه کړو چې خلک هسي بېځايه وپاروو... » (کې ص ص ۵۳۳)

مکناټن که، د ګورنرجنرال دفتر ته، هر څونه د افغانستان په باره کې د خيريت رپوټونه ورکول، کله کله مجبورېدی چې ريشتيا هم ووايي. په لومړي سر کې خو ريشتيا هم هر ځاى خيريت وو خو وروسته هم په ختيځ کې د غلجيو سيمو، هم له کندهاره تر کابله د غلجيو علاقو او په شمال کې د کوهستان او باميان سيمو اور واخيستی. مکناټن خپل دفترته وليکل: « د باجګاه سره نيژدې حالات سم نه دي، ځکه چې د ګورکه کنډک صاحب منصب يو نالايقه سړى دى. د ده په يوه تولی کې ډېرش څلوېښت تنه وژل سوي او زخميان سوي دي. زه د دې موضوع په باره کې چنداني فکر نه کوم. لارډ د کاروانو د سمبالولو لپاره ورغلی دى. ميګريګور هم په خپل ماموريت کې پاته راغلی دی. يو توپ يې له لاسه ورکړی دى او نه ماتېدونکي عسکر يې پر شا سوي دي. دا تول شيان چې پر يوه ځاى پېښ سي نو د سړي حتما چرت خرابيږي. مګر انشاءالله! د کمپنۍ نصيب به پر دې تولو ستونزو غالب سي. (هغه کتاب ص ۵۴۶)

يوه هفته وروسته داسي څرګنده سوه چې حتی د پايتخت په ګاونډ کې هم ياغيانو د شاه شجاع د حکومت د نسکورولو لپاره د عملياتو نقشي جوړي کړي دي. يوه رپوټ خو لا ويل چې سيکهانو، له ډيري ليري فاصلې څخه، له دوست محمد خان سره دسيسې پيل کړي دي. د اګسټ پر نولسمه مکناټن د ګورنرجنرال دفتر ته وليکل:

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

« موږ یو لیک را ګرځولی دی، چې که صحیح وي، او زه د هغه د جعلي ثابتولو لپاره دلیل هم نه لرم، چې له متن څخه یې ښکاري چې ډېرو مشرانو په کابل کې د یوه ښورښ لپاره تیاری کړی دی. په دې لیک کې، په مشخصه توګه، راغلي دي چې نونهال سینګه د دغه ښورښ سره د مالي مرستو د کولو ژمنه کړې ده. زه اوس شاه شجاع ته ورځم او په دې باره کې چې څه باید وکړو سلا ورسره کوم. » (هغه مخ)

مکناټن د سپتمبر په میاشت کې د ګورنرجنرال دفتر ته ولیکل:

« نن، د سپتمبر پر دریمه، رپوټ را ورسېدی چې ټول ترکستان د فرنګیانو پر ضد وسلو ته لاس اچولی دی . دا یقیني ده چې ایبک د دوست محمدخان قواوو ته په لاس ورغلی دی او احتمال لري چې کوډ رینګټن سیغان ته پر شا سي. یوازې په باجګاه کې زموږ عسکرو یو کوچنی برې ترلاسه کړی دی او په دغه مې خپل زړه خوشاله کړی دی. » (هغه کتاب ۵۴۸)

مکناټن د سپتمبر پر پنځمه لارډ اکلینډ ته ولیکل: « موږ دغه ګړی واورېدل چې له کابل څخه د آمو تر سیند پورې ټول هیواد د دوست محمدخان په طرفدارې پاڅېدلی دی. زموږ پوځیانو د بامیان خواته عقب نشیني کړې ده او که دښمن هلته هم حمله وربانديې وکړي زما سره ډېره اندېښنه نسته، مګر د دوی تاکتیکونه ښایي توپیر ولري. کوهستان پاڅون ته تیار دی او ټول ښار له خاینانو او ناراضي کسانو څخه ډک دی. زموږ توجه ښایي په عین وخت کې په مختلفو ځایونو کې ښورښونو ته واوړي. » (هغه کتاب ص ۵۴۹)

په سبا ورځ یې، په همدغه خواشیني، میجر راولنسن ته ولیکل:

« موږ دلته په ډېر بد حالت کې یو. ښایي تر هغه چې موږ یې انتظار کاوه لا هم خراب حالت وي. زموږ وضع تر هغه خرابه ده چې سړی یو څه زړه په وتړي. رپوټونه وایی چې د آمو د سیند پر دې غاړه ټول هیواد د دوست محمدخان په طرفداري ولاړ دی او هغه د خُلم له والي سره یو ځای مخ ته را روان دی او دونه مخته راغلی دی چې زموږ پوځیان د بامیان خواته پر شا تللو ته مجبور سوي دي. په دغه حال کې په کابل کې ډېر زیات ښورښیان موجود دي او ټول کوهستان ښورښ ته تیار دی. دې پېښو زما توجه بیخي ور اړولې ده او زه مجبور یم چې په هر نیم ساعت کې پنځوسو لیکونو ته جواب ورکړم.... موږ ډېر سخت کمزوري یو. د شاه شجاع د کنډک په شمول، یوازې درې کنډکه پیاده عسکر لرو. موږ پنځه دېرشم لمبر کنډک د بامیان د عسکري مرکز د تقویه کولو لپاره لېږلی دی؛ مګر اوس هم کافي قوت لرو. زه امید لرم چې د جنګ په میدان کې به ټول هغه مفسدین له منځه یوسو چې زموږ سره جنګیږي » (هغه کتاب هغه مخ)

د مکناټن، تر ټولو بده، وېره ریښتیا سوه. داسې ښکارېده چې کابل د پاڅون په حال کې دی. مکناټن د سپتمبر پر نهمه په ډېره وارخطایي یو ځل بیا په کندهار کې راولنسن ته ولیکل:

« ښار ټول په ښور کې دی. ځیني خلک دوکانونه تړي؛ ځیني نور خلک خپلي کورنۍ له ښاره دباندې استوي او د دې وارخطایی د لیرې کولو لپاره باید عملي ګام پورته سي. موږ د بالاحصار په دروازه کې د ګرېګ کنډک درولی دی او غرنۍ کنډک مو قلا ته دننه کړی دی. له بالاحصار څخه د میسډیمس، ټریوور او مارش راوتلو په خلکو کې یو ډول هیجان پیدا کړی دی. موږ یوه ډله عسکر د چاریکار د کوتل د څارلو لپاره لېږو او سپنډرز ورسره ځي. نو پوځي قوه، د پخلاینې کوښښونه او دسیسې به، چې زه عفو غواړم ما شهادتنامه پکښې اخیستې ده، داسې کار ورکړي چې د دوست محمد مخه به ونیسي. مګر ته تصور کولای سې چې زه په څرنګه اندېښمن حالت کې یم. » (هغه کتاب ص ۵۵۰)

الیګزانډربرنس، چې د شمالي سیمو د ښورښونو د کرارولو لپاره، د شاه شجاع د زوی تیمور سره یو ځای هغې سیمې ته تللی وو، د خواجه خضري په وادي کې، چې په چاریکار پورې اړه لري، د پاڅون د مشر میرمسجدي خان قلا په توپونو ورانه کړه او هغه له خپلو ملګرو سره له قلا څخه ووت او انګریزانو یې قلا وسوځوله. برنس، چې تر مکناټن او نورو انګریزانو نسبتا هوښیار وو، په دې عادي بریالیتوب ډېر خوشاله نه سو؛ د هغې سیمې ښورښونو وارخطا کړی او له شاه شجاع څخه یې غوښتي وه چې د شمالي د سیمې د خانانو او مشرانو په نوم د پخلاینې لیکونه او فرمانونه ولېږي ګوندې یو څه وضع کراره کړي. (کهزاد ۴۶۳)

موهن لال رپوټ ورکوي چې شاه شجاع الملک خپل د دربار یو مهم سړی منصور خان چاوس باشي زموږ سره واستاوه څو په شمالي سیمو کې د مشرانو ملاتړ ترلاسه کړي او دغه راز د هغو سیمو د وضعیت په باره کې اطلاعات برابر کړي. شاه شجاع دغه راز د مکناټن څخه وغوښتل چې د دغه هدف لپاره یو څه پیسې هم ورکړي. مګر وروسته معلومه سوه چې اعلیحضرت د دې پیسو ډېره برخه په خپل درد وهلي او خپلې خزانې ته یې انتقال کړې دي. موهن لال وایی غلام خان پوپلزي، چې له لومړي سره زموږ ملګری او موږ ته یې په دغه بحران کې ډېر زیات خدمتونه کړي وه، د یاغیانو دوه مهم مشران خواجه خانجي او خواجه عبدالخالق، شاه شجاع ته، په بیعت کولو راضي کړل او له میرمسجدي خان سره یې هم خبرې کړې وې؛ مګر پرته له دې چې غلام خان پوپلزي ته څوک اطلاع ورکړي،

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

زموږ قواوو، د اکتوبر پر دریمه سهار وختي، د میرمسجدي خان پر قلا باندي حمله وکړه او د تل لپاره یي زموږ دښمن کړ. (موهن لال دوهم ټوک ص ص ۳۴۸-۳۵۰)
په دغه حمله کي د میرمسجدي خان ملګري ډېر ښه وجنګېدل او انګرېزانو چي هر څونه کوښښ وکړ قلا یي فتح نه کړه خو میرمسجدي خان دونه سخت زخمي سو چي مقاومت یي کولای نه سو. هغه په شپه کي له قلا څخه وتښتېدی او ځان یي نجراب ته ورساوه. انګرېزانو په جلګه کي د مسجدي خان قلا تباه کړه. څو ورځي هلته معطل سول او د هغي سیمي خاني او مشرتوب یي د مسجدي خان یوه رقیب خواجه پادشاه ته وسپاره.
د انګرېزانو پوځونه، د اکتوبر پر اتمه د چاریکار خواته ولاړل او فکر یي کاوه چي ګوندي د دوست محمدخان له قوي سره به مخامخ سي مګر امیر د نجراب خواته خوځېدلی وو. هرڅومره چي د مجاهدینو روحیات غښتلي کېدل په هغه اندازه د شاه شجاع په لښکرو ماته ګډېدله او د هغه له پوځ څخه د عسکرو تښتېدل پیل سول. د ضابط مول د ټولی ټول کوهستاني عسکر له دوست محمدخان سره یو ځای سول. د یاغیانو یو غښتلی مشر میردرویش خان، چي د بابا قشقار په قلا کي پروت وو، د سردارمددخان د مور، د امیردوست محمدخان د خور په غوښتنه او ننواتو له دوست محمدخان سره ملګری سو. موهن لال وایي دا ښځه د خپل ورور امیردوست محمد خان په خبر چالاکه او هوښیاره وه او ما ته ریوټ ورسېدی چي دغه ښځه په بامیان کي د خپل ورور د ماتي څخه وروسته پر مشرانو ګرځېدله او هغوی ته یي قرآن په لمنه کي اچاوه او د انګرېزانو پر ضد یي پارول او له دوست محمدخان سره ملګري کېدلو ته یي هڅول. (موهن لال ص ص ۳۵۱-۳۵۲)
میرمسجدي خان او د مجاهدینو نورو مشرانو، دوست محمدخان ته، چي دا وخت په تاشقرغان کي وو، بلنه ورکړې وه چي په شمالي کي د دوی سره یوځای سي. په دغو شپو ورځو کي د انګرېزانو او مجاهدینو ترمنځ په توتم دره کي، د علیخان د قلا پر شاوخوا، په یوه خونړي جنګ کي، انګرېزانو ته ډېر سخت تلفات ورسېدل او په دې عملیاتو کی د هغوی یو مهم جنګي صاحب منصب کپتان ایډورډ کانلي ووژل سو. (کهزاد ص ۴۵۵)
الیکزانډر برنس له شاه شجاع څخه وغوښتل چي د کوهستان او نجراب د مشرانو په نوم فرمانونه او لیکونه ورته را ولیږي څو هغه د مشرانو په دلاساکولو کي کار ورڅخه واخلي. شاه شجاع هم د هغه له غوښتني سره سم د میرمسجدی خان، محمدشاه خان، نایب سلطان محمدخان، میرسیدخان، نواب خان، میرخواجه خان، رجب خان او کرم خان او دغه راز د نجراب د پاڅون د مشرانو په نامه لیکونه ور ولیږل؛ هغوی ته یي عفو اعلان کړه او له دربار سره یي د همکاری کولو او د پاچا د اطاعت کولوغوښتنه ورڅخه وکړه. البته دې لیکونو څکه ګټه ونه کړه چي خلکو پر شاه شجاع باندي اعتماد له لاسه ورکړی وو او دا وخت لا دوست محمدخان هم له هغوی سره یو ځای سوی او د هغوی په مقاومت کي یي نوې ساه پو کړي وه. (هغه کتاب ص ۴۶۴)

دوست محمدخان او د پروان درې جنګي عملیات:

انګرېزانو په دوست محمدخان پسي دلته هلته کتل. د هغه د پوځي فعالیت ټاکلی ځای یي پیدا کولای نه سوای. د هغه وجود او د هغه قوت دواړه معما وه. مکناټن خو یو ځل ولیکل چي سړي ته د هغه د قواو شمېر هم نه معلومېږي. څوک وایی لس زره تنه ورسره دي څوک وایي ټول لښکر یي شپږ سوه تنه دی. بالاخره د انګرېزانو غښتلي او زړه ور صاحب منصبان په پروان دره کي پخپله د امیر دوست محمدخان سره مخامخ سول. یوه صاحب منصب چي په دې جنګ کي یي برخه درلوده په خپلو یاداشتونو کي لیکلي دي: « افغانان د تپي پر یوه اړخ او برتانوي پوځیان یي پر بل اړخ وه. دوست محمدخان زموږ سپاره عسکر ولیدل چي پر مخ ور روان وه، او له هغي شېبې یي له خپل مغز څخه د پرشا کېدلو فکر لیري کړ. د قوي افغانانو د سپرو یوه وړه ډله ورسره وه، خو د آسونو یي چنداني مزه نه وه، او ده له حمله کوونکو سره د جګړې تیاری وکړ. د ده څنګ ته له یوه تن سره شین بیرغ ورسره وو او له هغه ځایه څخه معلومېدله چي دوست محمدخان به چیري ولاړ وي. ده د خپل آس کیزه راکش کړه او بیا یي نو خپله سپینه لونګی له سره لیري کړه. د خپلو عسکرو په مخ کي سرتور ودرېدی او پر خپلو ملګرو یي ږغ وکړ چي د خدای او رسول په نامه، لعنتي کافران د اسلام له خاوري و شړی. په زوره یي ناره کړه چي په ماپسي راځی او کنه، زه نور ولاړم او پر ورک مي وشمېری. افغان سپاره آرام خو په ډېرو متینو ګامونو را پرمخ سول. انګرېزي صاحب منصبانو، چي په حمله کي یي زموږ د قواوو رهبري کوله، ځانونه خزه کړل. ځایی عسکر لکه پسونه داسي وتښتېدل. افغان سپرو، چي د انګرېزانو د سپرو عسکرو بې زړه توب ولیدی نو مخته راغلل او خپل دښمنان یي پسي واخیستل او سم یي د برتانوي عسکرو پر مورچو باندي حمله وکړه. تر څو چي زموږ د توپونو مخي ته را ورسېدل. د افغانانو تورو او نېزو زموږ په سپرو عسکرو لو ګډ کړ. ضابط براډ فوټ او ضابط کریسپین یي ټوټې ټوټې کړل. ډاکټر لارډ په مرمی ولګېدی او یوه بل افغان یي د خنجر په واري کار ورتمام کړ. تورن فرېزر او تورن پونسون بي، چي په زړه ورتوب کي یي د روم د افسانو تر قهرمانانو اړولي ده، ډېر سخت ټپیان سول. هغوی اوس هم ژوندي دي او خپل دهغي ورځي داستان، چي غرور او سپکاوی دواړه پکښي څرګند دی، بیانولای سي.
زموږ د پوځونو د ستون مخي ته، چي زموږ ملي بیرغ رپېدی، افغانان د میدان د مېړونو په څېر څو شېبې ودرېدل او په آرامه له میدانه ووتل. سر الیکزانډر برنس دې فاجعې ته حیران تللی وو او سرویلیم مکناټن ته یي ولیکل چي

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکي په څیر و لولئ

موږ پرته له دې چې خپلې قواوې ټولې کابل ته را وبولو او خپل ټول پوځیان په یوه مرکز کې را غونډ کړو بله لاره نه لرو. » (هغه کتاب ص ص ۵۶۴-۵۶۵)
برنس مکناټن ته ولیکل چې ټولې قواوې په مرکز کې را غونډې کړې او بله چاره نه لري. خو په دغه وخت کې دوست محمدخان بل فکر کاوه. هغه پوه سو چې پر انګرېزانو باندې د ده برېالیتوبونه به هغوی نور هم په غوسه کړي او نورې قواوې به را وغواړي او د ده له انګرېزانو سره جنګ په وس پوره نه دی. خو هغه ښه جنګېدلی وو او په هغه ورځ یې په دونه زړه ورتوب فتح کړې وه چې چا ګوته ورته نیولای نه سوای. انګرېزان نه پوهېدل چې دوست محمدخان د هغې ورځې له جنګ څخه وروسته چیرې ولاړ او د راتلونکې لپاره څه پلانونه لري؛ خو دوست محمدخان د هغه وروستي جنګ په سبا د ماښام په وخت یوازې له یوه بل سپاره سره د کابل په ښار کې، چې مکناټن خپله د آس سورلي کوله، حاضر سو. هغه سپاره د مکناټن پوښتنه وکړه او کله چې مکناټن ورته وویل چې زه پخپله یم نو سپاره ورته وویل چې امیر راغلی دی. مکناټن دونه وارخطا سو چې نابوبره یې له خولې چیغه پورته سوه چې کوم امیر؟ هغه جواب ورکړ چې دوست محمد. او له دې خبرې سره دوست محمدخان حاضر سو او مکناټن ته یې وویل چې زه غواړم ستاسې دولت ته ځان تسلیم کړم. د مکناټن لپاره دا پېښه دومره حیرانوونکې وه چې نه پوهېدی څه ووایي. امیر خپله توره هغه ته تسلیم کړه خو مکناټن په ډېر احترام د هغه توره بېرته ورکړه. دوست محمدخان خپلو اولادونو ته هم ولیکل چې د ده لاره تعقیب کړي او لږ وروسته، د مشر زوی محمدافضل خان په شمول، ډېر نور اولادونه ورسره یو ځای سول.
دوست محمدخان، انګرېزانو ته د خپلې تسلیمۍ په باب چاته هیڅ نه دي ویلي او انګرېزانو هم په دې باره کې پرته له دې چې ووایي دوست محمدخان په ځان کې د نورې مقابلې توان نه لیدی نو ځکه تر دې وروستي جنګ وروسته یې ځان تسلیم کړ بل څه نه دي لیکلي. خو فیریه وایي چې له دوست محمدخان سره په هغه وروستي جنګ کې، چې په پروان دره کې یې وکړ، له ځان سره یوازې اتیا تنه ملګري درلودل. داسې انتظار کېدی چې هغه به خپلو حملو ته دوام ورکوي خو په هغه شپه د انګرېزانو جاسوسان د امیر د کوچني پوځ منځته ورسېدل او پیسې یې ووېشلې او له امیر څخه ملګري جلا سول. ضمنا انګرېزانو اعلان وکړ چې د امیر پر سر باندې یې ډېر زیات انعام ایښی دی او دې نبلیغ له هر چا سره دا تمه پیدا کړه چې که امیر انګرېزانو ته په لاس ورکړي نو شته من به سي. امیر دوې درې شپې وروسته یوازې پاته سو او په غرونو کې پټ ګرځېدی او بالاخره یې ځان مکناټن ته تسلیم کړ. (فیریه ص ۳۳۹)
که څه هم چې فیریه خو، د معمول په څېر، خپل مأخذ نه ښیي، خو لیکنه یې یو څه د تأمل وړ ښکاري. داچې دوست محمدخان به په خلکو باور نه درلود او له خپل اولسه به یې د هر ډول ناروا کار تمه درلوده دا ډېره بېځایه خبره نه ده ځکه چې له هغه سره خپلو ورونو او نیژدې کسانو ډېر زیات خیانتونه کړي وه او امیر د هر ډول او پر هر چا باندې د بې باورۍ حق درلود. خو دا چې د دوست محمدخان د دونه ځرګندې فتح په ماښام دې د انګرېزانو جاسوسان د دوست محمدخان د کوچني پوځ منځته ورغلي او هلته به یې پیسې وېشلې وې یو څه له امکانه لیرې ښکاري. او یوه خبره لا دا چې ټول متون وایي دوست محمدخان د پروان درې د جنګ په سبا ځان مکناټن ته تسلیم کړ او فیریه وایي چې هغه درې شپې په غرونو کې یوازې ګرځېدی. په هر صورت، دوست محمدخان هوښیار سړی وو او ځرنګه چې فاتح نه محاکمه کیږي او هغه بالاخره میدان ګټلی دی نو موږ یې هم پر دغه عمل ډېره تبصره نه کوو.
دوست محمدخان لس ورځې په کابل کې پاته سو او په هغو لسو ورځو کې د کابل ټول مشران ورته راغلل او هر یوه یې جلا جلا قدر وکړ. امیر هم د دوی ټولو درناوی وکړ او له ټولو سره یې په ډېره آزادي خبرې کولې. کپټان نیکلسن د دوست محمدخان د ساتونکې او ترجمان په حیث حاضر وو. هر چا چې په دغه وخت کې دوست محمد لیدلی دی دا به ممکنه نه وې چې د هغه او شاه شجاع شخصیتونه یې سره مقایسه کړي نه وي او له هره پلوه یې دوست محمدخان تر شاه شجاع بهتر نه وي بللی. (کې ص ص ۵۶۵-۵۶۸)
انګرېزانو ته د امیر دوست محمدخان د تسلیمېدلو موضوع، د مرحوم کهزاد په شمول، ډېرو افغاني مورخینو غندلې او دا یې د هغه داسې اشتباه ګڼلې ده چې د بخښلو وړ نه ده. دوی وایي چې امیر په دې کار سره د مجاهدینو تحریک له ناکامۍ سره مخامخ کړ او انګرېزانو ته یې په کابل کې د یوه کال نور پاته کېدلو مهلت ورکړ. (کهزاد ص ۴۷۴)
امیر دوست محمدخان، انګرېزانو ته د تسلیمېدلو د فیصلې په باب، هیڅ وخت هیچا ته څه نه دي ویلي او دا سِر یې له ځانه سره ګورته وړی دی. مګر د هغه په باره کې داسې قضاوت کول ځکه یو څه بېځایه او حتی ظالمانه دی چې لومړی خو د امیر دوست محمدخان له تسلیمېدلو سره نه پاځون پای ته ورسېدی او نه په خلکو او مشرانو ماته ګډه سوې ده او تاریخ ثابته کړه چې نهضت ورځ تر بلې قوي سو او د پاځون د میدان وروستی او تر ټولو مهم رهبر او قوماندان د ده زوی سردار محمداکبر خان وو.
تاریخ شاهد دی چې له کابل څخه تر جلال اباد پورې، د انګرېزانو د پوځ د بشپړ تباه کېدلو او له هیواده څخه د هغوی د وتلو وروسته، که بیا هم امیر دوست محمدخان ځان کابل ته نه وای رسولی نو د قدرت پر سر داخلي جنګونو به دوام کړی وای او د سر او مال د تاوانونو د اندازې په باب یې هیڅ چا نه اټکل کړی او نه یې کولای سي.
دا هم د امیر دوست محمدخان د تورې او تدبیر برکت وو چې بېرته یې د افغانستان د شمال ټولې علاقې تر کنټرول لاندې راوستلې او کندهار او هرات یې د کابل سره یو ځای کړل. که دوست محمدخان نه وی نو دا هیڅوک نه سي

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالې د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

ويلاى چي دي سيمو ته به څه پېښه سوي واى. كه نور هيڅ نه وي نو سړى دونه ويلاى سي چي د هرات اينده لړترلړه نامعلومه وه.
امير دوست محمدخان هم د خپل وطن سره مينه او هم يې د توري په ميدان كي خپل زړه ورتوب اوهم يي تدبير د عمل په ميدان كي آزمېيلى او ثابت كړى وو. كه له هغه سره وطن پالنه، او د توري او تدبير كمال نه واى او ټولو مشرانو منلى نه واى نو دا به چنداني ممكنه نه واى چي محمدشاه خان غلجى، امين الله خان لوګرى، نواب محمدزمان خان او نورو مشرانو دي د هغه مشرتوب منلى واى.

نوربيا

مكناټن د امير دوست محمد خان له تسليمېدلو وروسته:

عبدالباري جهاني

شاه شجاع، امير دوست محمد خان او برتانيه, اته ويشتمه برخه

افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همكارى ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيكه ټينګه كړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليكني د ليكنيزي بني پازوالي د ليكوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليكنه له راليږلو مخكي په ځير و لولئ